


# د هیواد په کچه د ښځو سره د شوو سلا مشورو د راپور لنډیز

انځور: د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداره/سیدحبیب بیدل

## مخینه

دغه راپور په ټول افغانستان کې د ښځو د اوسني وضعیت او لومړیتوبونو په اړه د هغوي لیدلوري وړاندې کوي. د ۲۰۲۱ کال په اګست میاشت کې په نظامي بڼه د هېواد د واک ترلاسه کولو راهیسې د طالبانو له خوا (چې له هماغه وخت راهیسې اوس برحاله چارواکي هم یادیږي) یو لړ فرمانونه صادر شوي چې له کبله یې مېرمنې د عامه ژوند او په شاوخوا ټولو سکتورونو کې د تصمیم نیونې له موقفونو څخه په سیستماتیک ډول حذف شوي او په دې توګه د منځنۍ کچې زده کړو او لوړو زده کړو نه منع شوي دي. له همدې امله، په افغانستان کې د ښځو، په واقعیت کې په ټوله کې د افغان ټولنې د قشر پر رواني او بدني روغتیا رامنځ ته شوی اغیز، بې سارې دی.

د ۲۰۲۲ کال له اګست راهیسې، د ښځو او د جنسیتي برابرۍ لپاره د ملګرو ملتونو اداري (UN Women)، د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)، او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) په ګډه د افغان میرمنو له بیلابیلو ډلو سره ربعوارې سلا مشورې ترسره کړې، چې له ځواب ورکوونکو پر هغو ستونزو او مسایلو د دوی د نظر ورکولو غوښتنه کوي چې پر ژوند یې اغېز پرېباسي.[1] دغه سلا مشورې د مېرمنو لومړیتوبونه او واکمنو چارواکو څخه د دوی غوښتنې رابرسېره کوي او په نړیوال ډول له سپارل شویو غوښتنو سره مرسته کوي څو د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ښځو، سولې او امنیت اجنډا،[2] د یوناما د ماموریت،[3] د ملګرو ملتونو د مهمو پالیسي اسنادو سره سم- د خپلواکې ارزونې [4] په ګډون چې په ۲۰۲۳ کال کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي او په تعقیب یې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۷۲۱ پرېکړه لیک[5] له مخې ګمارل شوي د افغانستان لپاره د ځانګړي همغږي کوونکي له خوا ترسره شوې، د افغانستان د راتلونکې په تړاو په ټولو خبرو اترو کې د افغان میرمنو بشپړ، مساوي او هدفمند ګډون ډاډمن کړي.

---

[1] د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره، یوناما او د کډوالۍ نړیوال سازمان د امنیت شورا له ناستو مخکې په هرو دریو میاشتو کې له افغان میرمنو سره سلا مشورې کوي. د تیرو سلا مشورو په راپورونو کې راتلونکي هغه شامل دي: فبروري ۲۰۲۴، ډسمبر ۲۰۲۳، سپتمبر ۲۰۲۳، جون ۲۰۲۳، مارچ ۲۰۲۳ او اګست ۲۰۲۲.

[2] د ملګرو ملتونو د پالیسي اسناد او نورو معلوماتو په اړه چې د ښځو، سولې او امنیت اجنډا د ملګرو ملتونو ژمنتیا په مفصل ډول تشریح کوي، دلته د لاس رسي وړ دي، وګورئ: د ملګرو ملتونو د سیاسي او سولې رامنځ ته کولو چارو څانګه. جنډر، ښځې، سوله او امنیت.

[3] د یوناما د ماموریت په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، وګورئ: یوناما. ماموریت.

[4] وګورئ: د ملګرو ملتونو امنیت شورا، ۲۰۲۳. د امنیت شورا رئیس ته د سر منشي د ۲۰۲۳ کال د نومبر د ۸ نېټې مکتوب. ۸۵٦/S/۲۰۲۳.

[5] د یوناما ماموریت د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۶۷۸ پرېکړه لیک له لارې بیا تمدید شو.

## میتودولوژي

ربعوار سلا مشورې وروستی ځل د ۲۰۲۴ کال د اپریل د ۱۷ او ۲۹ نېټو ترمنځ ترسره شوې. د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، د کډوالۍ نړیوال سازمان او یوناما آنلاین او مخامخ ګروپي سلا مشورې او تیلفوني سروې ګانې ترسره کړې چې په دغو ټولو کې د افغانستان ۳۴ ولایتونو له جملې په ۳۳ هغو کې ۸۸۸ افغان میرمنو ګډون کړی و.[6] د خوندیتوب ټکو په پام کې نیولو سره په ټولو ولایتونو کې مخامخ سلا مشورې ترسره شوې، چې افغان میرمنو ته یې یو بې ساری فرصت برابروه ترڅو سره راغونډې شي، له نورو ښځو سره خپلې ننګونې شریکې کړي او تجربې یې د نړیوالو فعالینو له خوا واورېدل شي. د سلا مشورو په دغې طریقه کې دخیلو میرمنو د تیرو دریو میاشتو سلا مشورو په اړه ځرګندونې کړې؛ د خپلو ځانګړو تجربو په اړه یې مفصل معلومات ورکړي، له هیواد سره د نړیوال تعامل په هکله یې نظرونه ورکړي، او ښځو حقونو د تأمین او تحقق د ښه والي لپاره یې سپارښتنې وړاندې کړې دي. د سلا مشورو په دغو موضوعاتو کې تکراري او نوي موضوعات دواړه شامل دي. همدارنګه د دې سلا مشورو راپورنه د مرکه شوو مېرمنو ترمنځ د وخت په تېرېدو سره دوامداره عمومي جریانات تحلیلوي. د یادونې وړ ده چې هغو مېرمنو چې د ۲۰۲۳ کال ډسمبر – ۲۰۲۳ اپریل ترمنځ موده کې ورسره سلا مشورې شوې دي، له ډلې یې له ۲۴-۳۱ سلنې پورې لږ تر لږه په یوه تېره سلا مشوره کې ګډون کړی وو.

دغې پروسې د افغان میرمنو پراخ قشر ته د رسیدنې فرصت برابر کړ: په ښار کې میشتې میرمنې (۶۰ سلنه ځواب ویونکې)، په کلیوالي سیمو کې میشتې (۲۰ سلنه) د ښار شاوخوا سیمې (۱۵ سلنه)؛ د کورنیو ښځینه سرپرستې (۳۵ سلنه)؛ داخلي بېځایه شوې (۱۵ سلنه) او بېرته راستنې شوې میرمنې (۸ سلنه)؛ دنده لرونکې (۴۳ سلنه) او بې روزګاره (۵۱ سلنه) ښځې؛ او معلولیت لرونکې میرمنې (۷ سلنه). له کومو ښځو سره چې سلا مشورې ترسره شوې یو پر درې برخې یې د تېر ځل په سلا مشورو کې هم ګډون کړی و.

دغه راز په ۱۴ ولایتونو کې له ۶۴ سړیو سره هم سلا مشورې ترسره شوې چې د افغان نارینه وو او ښځو په وضعیت کې د جنسیتي توپیرونو په اړه بشپړونکی تحلیل ترسره کړي، او په ورته وخت کې د ښځو د حقونو په اړه د افغان نارینه وو لیدلوري، لومړیتوبونه او سپارښتنې راټولې کړي. مشوره شوي نارینه وو د مشوره شویو ښځو په څېر د پیژندنې ورته نښې نښانې درلودې، په ښاري سیمو کې (۶۶ سلنه) نارینه وو، په کلیوالي سیمو کې (۱۶ سلنه) او د ښاري سیمو شاوخوا کې (۱۶ سلنه)؛ داخلي بېځایه شویو (۲۰ سلنه) او بېرته راستنېدونکو (۱۴ سلنه)؛ دنده لرونکو (۵۶ سلنه) او بې روزګاره (۴۴ سلنه)؛ او معلولیت لرونکو (۸ سلنه).

## کلیدي موندنې


«یو کال مخکې، زیاته هیله موجوده وه، خو اوس واقعیت نهیلی کوونکی دی.»

- د تېرو سلا مشورو څخه د ترلاسه شوو موندنو سره سم، مېرمنو په ډاګه کړې چې دوی د دوی لپاره د مهمو موضوعاتو په اړه له **ځایي چارواکو سره په مکرر ډول تعامل نه دی ترسره کړی**، چې ۸۰ سلنه مېرمنو د دې یادونه کوله چې دوی په درې میاشتنۍ موده کې له ځایي چارواکو سره یو ځل هم تعامل نه دی ترسره کړی او ۱۶ سلنه مېرمنو بیا ویلي چې دوی له ځایي چارواکو سره تعامل درلود. برعکس، د هغو نارینه وو ونډه چې په تیرو دریو میاشتو کې یې لږ تر لږه یو ځل له ځایي چارواکو سره لیدلي، چې د ښځو (۱۶ سلنې) په پرتله درې برابره، یعنې ۵۳ سلنه وه.
- د نارینه وو د ۱۸ سلنې په پرتله د مشوره شویو ښځو یوازې ۲ سلنې یې په ډاګه کړه چې دوی **د ټولنې د پرېکړې-کولو پر ادارو** «ښه» یا «بشپړ» اغېز درلود. دا تېر په څېر کوچني ارقام دي، چې هغه مهال په تېرو مشورو کې هم یواځې ۱ سلنه ښځو ویلي وو چې د دوی د ټولنې په کچه دغه ډول اغېز یا نفوذ لري. ښځو په ډاګه کړه چې دوي زیاتره وختونه له عامه ناستو محرومې شوي او نشي کولای له ځایي چارواکو سره په مستقیم تعامل وکړي، پر ځای یې دې ته اړ شوي چې د کورنۍ او ټولنې پر نارینه غړو تکیه وکړي تر څو د هغوی په استازیتوب مدافعه ترسره کړي. ښځو دا نکته هم مطرح کړه چې د هغوی د نظرونو شریکولو لپاره پر نارینه وو اتکاء د تصمیم نیونې له ګڼو کچو څخه د هغوي محوه کول یوه عادي چاره ګرځوي.
- د مشوره شویو نارینه وو په پرتله چې ۵۰ سلنې یې **د ښځو دواړو رسمي او غیر رسمي حل لارو** ته د لاس رسي خبر ورکړی، مشوره شویو ښځو د ښځو د رسمي او نا رسمي حل لارو ته په نا متناسب ډول د کم لاس رسي خبر ورکړی (په ترتیب سره ۳ او ۷ سلنه). ښځو په ډاګه کړه چې دوی د تصمیم نیونې په ټولو مرحلو کې پر خپل ژوند له اغیزې ښېندلو څخه محرومې شوي – نه شي کولی پر دوی باندې پر وضع شویو قوانینو اغیز وښېندي، او نه هم د ترسره شویو سرغړونو لپاره د احتساب ته د نورو د حاضرولو یا نه هم د واکمنو چارواکو له خوا د ورکړل شویو کمو حقونو د تنفیذ وړتیا لري.
- په اندېښمنونکي ډول، د نارینه وو د ۲ سلنې په پرتله، د ۲۰۲۴ کال له جنوري راهیسې په زیاتېدو سره، ۶۴ سلنه **مشوره شویو ښځو په ډاګه کړه چې له کور څخه د یوازې وتلو پر مهال «هیڅ» د خوندیتوب احساس نه کوي.**[7] په دې تړاو، **نارینه وو څرګنده کړه چې کله**

[6] ټولو ولایتونو ته رسیدګي شوې، پرته له ارزګان ولایت څخه، چې هلته ګډونوالو ونشو کولای د سیلابونو له امله په کندهار کې د سویلي زون لپاره په لاره اچول شوو حضوري سلا مشورو کې ګډون وکړي. د ۲۰۲۴ کال په جنوري
[7] کې، د مشوره شوو مېرمنو له ډلې ۵۷ سلنه ښځو په ډاګه کړې چې په یواځې توګه له کوره په بهر وتلو کې «په ټوله کې ځانونه غیر خوندي» احساسوي.

**د کورنۍ لـه کـوم ښـځینه غـړي سره پـه عـام محضر کـې وي** د خوندیتـوب احسـاس یـې د پـام وړ کمیـږي، چـې دا لـه هغـه څـه سره سـمون لـري چـې ښـځې یـې پـه دې اړه وایـي – چـې دوي د واکمنـو چاراواکـو او د ټولنـې د غـړو لـه خـوا عامـه ځایونـو تـه د ورتللـو لـه املـه پـه نښـه کېـږي.[^8]

- **پـه ځایـي کچـه خدمتونـو تـه پـه لاسرسي کـې د خنډونـو** پـه اړه د نظر څرګندولـو پرمهـال، مرکـه شـویو ښـځو لـه واکمنـو چاراواکـو غوښـتنه وکـړه چـې د تصمیـم نیولـو پـه ځایـي پروسـو او خدمتونـو د وړانـدې کولـو پـه طرحـه کـې د ښـځو د ځایـي پلټفورمونـو د تاسیسـولو او عامـو خلکـو سره د ښـاري پـلان جوړولـو لـه لارې د ټولنـې ټـول ګډونـه تعامـل تـه لومړیتـوب ورکـړي.
- مشـوره شـویو افغـان میرمنـو او سـړیو دا پـه ډاګـه کـړه چـې نړیوالـه ټولنـه بایـد پـه **د تصمیـم نیولـو پـه هغـو نړیوالـو غونډو او ناسـتو کـې** چـې د افغانسـتان د راتلونکـې پـه تـړاو پکـې خـبرې اتـرې کېـږي، د **ښـځو د ګـډون** د تضمینولـو لپـاره رسـمي میکانیزمونـو رامنـځ تـه کـړي. د مرکـه شـویو میرمنـو او ښـځو زیاتـرو هغـو یـې پـه ډاګـه وویـل چـې پـه دې تـړاو بایـد لـږ تـر لـږه لـه یـوې طریقـې: د افغـان پـلاوو ترمنـځ د ښـځینه اسـتازو لپـاره د ۵۰ سـلنې ونـډه، د افغـان میرمنـو یـو پـلاوی دې پـه هغـو نړیوالـو غونـډو او ناسـتو کـې حـاضر وي چـې د افغانسـتان پـه اړه بحـث کـوي، او د نړیوالـې ټولنـې لپـاره د ښـځو یـو مشـورتي بـورډ موجودیـت څخـه کار واخیسـتل شي.
- زیـات شـمېر مرکـه شـویو افغـان میرمنـو او نارینـه دا بـاور څرګنـد کـړ، **چـې د ښـځو د وضعیـت د ښـه کولـو پـه پـار نړیوالـه ټولنـه بایـد** «**د ښـځو لپـاره لـه طالبانـو سره د خـبرو اتـرو زمینـه برابـره کـړي**» (پـه ترتیـب سره ۴۵ او ۴۱ سـلنه). د مشـوره شـویو ښـځو او نارینـه وو لـه منځـه «د طالبانـو پـه رسـمیت پېژندنـه» د دواړو لخوا پـه پراخـه کچـه رد شـوه (پـه ترتیـب سره یـوازې ۴ او ۳ سـلنه د دغـه ډول رسـمیت پېژندنـې ملاتـړي وو).




نړیواله ټولنه په نړیوالو فورمونو کې د افغان ښځو ګډون پوره استازیتوب کوي





د دفاکتو اداري استازي په نړیوالو فورمونو کې د افغان ښځو د ګډون پوره استازیتوب کوي




[^8]: دغـې پوښـتنې تـه پـه ځـواب کـې، آیـا لـه کـور څخـه د یـوازې وتلـو پرمهـال د خوندیتـوب احسـاس کـوي؟، نارینـه وو ځـواب ورکـړ «پـه بشـپړ ډول» (۷۵ سـلنه)، «یـو څـه» (۲۳ سـلنه)، او «هیـڅ نـه» (۲ سـلنه). دغـې پوښـتنې تـه پـه پرتلـه، د کورنـۍ لـه ښـځینه غـړي سره لـه کـوره د وتلـو پرمهـال د خوندیتـوب احسـاس کـوي؟ نارینـه ځـواب ورکـړ «پـه بشـپړ ډول» (۳۱ سـلنه)، «یـو څـه» (۶۳ سـلنه)، او «هیـڅ نـه» (۶ سـلنه).

شځې باور لري چې نړیواله ټولنه باید له لاندې لارو د ښځو لپاره وضعیت ښه کړي




## موندنې

### نفوذ او تعامل

«سره له دې چې زما کورنۍ روڼ آندي ده، خو د ټولنیزو غبرګونونو ویره د هغوی پر دې هیله چې ما بریالۍ ووینې، برلاسي کېږي.»

مشوره شویو ښځو په ډاګه کړه چې ډېر په ندرت سره له واکمنو چارواکو (یا ځایي چارواکو) سره د هغو موضوعاتو په اړه تعامل کوي چې د دوي لپاره ارزښت لري. اتیا سلنې یې د دې یادونه وکړه چې هغوی د درې میاشتنۍ – د ۲۰۲۴ کال له جنوري څخه تر مارچ پورې - په موده کې چې د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو د دفتر-یوناما-د کډوالۍ د نړیوال سازمان د سلا مشورو د دغه دور له خوا تر پوښښ لاندې نیول شوي، تعامل نه دی ترسره کړی.[9] د تعامل دغه نشتون د مرکزي سیمو بر عکس (۵۹ سلنه) په مرکزي لوړو سیمو،[10] جنوبي سیمو، او جنوب ختیځو سیمو کې په ځانګړې ډول څرګند و (په ترتیب سره ۹۸ سلنه، ۹۵ سلنه، او ۹۲ سلنه). د مشوره شویو سږیو د ۵۳ سلنې په پرتله د مشوره شویو ښځو یوازې ۱۶ سلنې د ورته مودې په چوکاټ کې له ځایي چارواکو سره یو ځل یا زیات تعامل په ډاګه کړی.

هغه کچه چې ښځو ورسره په مرکزي سیمه کې (۲۶ سلنه) او لویدیځه سیمه کې (۲۲ سلنه) له ځایي چارواکو سره یو ځل یا زیات تعامل کړی، لوړه وه، چې سیمه ایز توپیرونه په ډاګه کوي. همدارنګه له واکمنو چارواکو سره د هغو موضوعاتو په اړه چې دوی ته مهم دی، یو لړ دلایل بیان شوي دي –د بیلګې په توګه، دوي ته د واکمنو چارواکو ودانیو ته د ننوتلو اجازه نه ده ورکړل شوې یا یې د واکمنو چارواکو له خوا د لیدنې غوښتنه رد شوې؛ په حقیقت کې هغو ښځو ته چې د لیدنو فرصت ورکړل شوی، خبر ورکړی چې چارواکي پخپله له دوي سره د لیدنې له امله له تورونو او پایلو سره مخ شوي.

ځینو مشوره شویو نارینه وو او ښځو یادونه وکړه چې هغه موضوعات چې په مشخص ډول افراد یا د ټولنې نور قشرونه (د مثال په ډول ماشومان) اغیزمنوي، د نارینه وو لپاره آسانه دي چې له واکمنو چارواکو سره یې مطرح کړي. خو له واکمنو چارواکو سره د حکومتولۍ پر موضوعاتو یا بنسټیز بدلون غوښتنې لکه له شېږم ټولګي پورته د انجونو په زده کړو لګیدلو بندیزونو او د ښځو استازیتوب په هکله تعامل او خبرو اترو ته له واکمنو چارواکو سره د مخالفت په سترګه کتل کېږي او له همدې امله یې مطرح کول آن د نارینه وو لپاره هم ناشونې بریښي. آن که چېرې مشران او دیني عالمان هم دغه ډول موضوعات مطرح کوي له منفي عواقبو سره مخ کېږي.


[9] په پرتلیز ډول، ۴۴ سلنه نارینه وو خبر ورکړی چې دوي «هیڅکله» له ځایي چارواکو سره د هغو موضوعاتو په اړه تعامل نه دی کړی چې د دوي لپاره مهم وو.
[10] په مرکزي لوړو سیمو کې، ۷۶ سلنه ځواب ویونکي هزاره ګان او ۲۴ سلنه یې تاجکان دي، چې تصمیم نیونکو ته د لاسرسي په برخه کې د توکم او جنسیت تقاطع څرګندوي، په داسې شرایطو کې چې برحاله چارواکي نږدې ټول یوازې پښتانه دي او د نورو قومي ډلو په وړاندې د تاوتریخوالي او تبعیض تاریخ.

زیات شمېر ښځو او نارینه وو په ډاګه کړه چې له واکمنو چارواکو سره تعامل تر ډېره بریده او مؤثر ډول د با نفوذه افرادو له لارې ترسره شوی، لکه نارینه قومي مشران او دیني عالمان چې له ځایي واکمنو چارواکو سره یې شخصي اړیکې درلودې. ځواکمنو - ځوک چې عموما د ټولنیز وضعیت استازیتوب کوي - ته د لاس رسي په پار پر شخصي اړیکو اتکاء د واک د موجوده سیسټمونو د ترتیب او تنظیم لپاره کار کوي او د هغو کسانو حاشیي ته ویستل لا پسې پیاوړي کوي چې له ورته لاسرسي څخه برخمن نه وي. د ښځو لپاره د ځایي مشرانو له لارې د کار کولو یو له خورا مروجو لارو څخه دا ده چې لومړی د خپلې کورنۍ مشر ته عریضه وړاندې کړي، هغه یې بیا د ټولنې مشر ته عریضه وړاندې کړي او بیا له هغوی غوښتنه وکړي چې یا د ټولنې پریکړه کونکي اداري یا ځایي واکمنو چارواکو ته په مستقیم ډول عریضه وړاندې کړي. په هر پړاو کې، د دې خطر لوړ دی چې د ښځو اړتیاوې او غوښتنې له پامه وغورځول شي. تر دې په بدل ډول، د برحاله چارواکو اقداماتو په عمدي ډول یو داسې چاپېریال رامنځ ته کړی چېرې چې د ځان لپاره د مدافعې احتمالي ګټې د حقیقي زیان له خطر څخه ډېرېږي. د «میناماکس» د قاعدې تطبیق په دې مانا چې په عمل کې ښځې او د هغوی نارینه متحدین ډېری وختونه آن موضوعات نه مطرح کوي، ځکه چې د ښځو لپاره د وضعیت د ښه کولو غوښتنه یوه پلمه ګرځي چې د واکمنو چارواکو له خوا د هغوی د حقونو له زیات محدودولو او نقضولو لپاره کارول شوې.[11]


په اوسني وضعیت کې د تصمیم نیولو نورې لارې چارې د ځایي شوراګانو له لارې دي – په کومو کې چې ښځې په معمول ډول له ګډون څخه محرومې شوې. د نارینه وو د ۱۸ سلنې په پرتله، د مشوره شویو ښځو یوازې دوه سلنې په ډاګه کړه چې دوی د ټولنې د تصمیم نیولو پر ادارو «ښه» یا «بشپړ» نفوذ درلود. ځینو ښځو د دې یادونه وکړه چې په ټولنه کې زړو میرمنو (له ۵۰ کلنۍ د پورته عمر) په زیات احتمال د ځایي شوراګانو په غونډو کې د ګډون حق درلود، چې د جنسیت او د عمر د سلسله مراتبو د تقاطع ځرګندونه کوي.

مشوره شویو ښځو د شخړو دواړو رسمي او غیر رسمي حل لارو ته په لاسرسي کې د جنسیتي توپیرونو خبر ورکړی. د حل لپاره دغو ادرسونو ته لاسرسی پخپله د ښځو له خوا په ترتیب سره ۳ سلنه او ۷ سلنه ښودل شوی، په داسې حال کې چې د سروې په منځ کې دا کچه ۵۰ سلنه وه (د دواړو لپاره). د جنسیتي تاوتریخوالي په څېر حساسو موضوعاتو ته د رسیدګۍ د ځرګنوالي په اړه له اندېښنو سره دغه کار د دې لامل کېږي چې ښځې په موثر ډول شکایتونو ته د رسیدګۍ لپاره د کوم ادرس درلودلو پرته پاتې کېږي. آن په هغو سیمو کې چېرې چې ښځې په نظري ډول د حقونو درلودونکې دي، لکه هغه چې په ظاهري ډول د د واکمنو چارواکو[12] له خوا ورکړل شوي، د شخړو د حل د لاسرسي وړ لارو چارو نشتون د واکمنو چارواکو له خوا د لړو ورکړل شویو حقونو انفاذ او تحقق کمزوری کوي.

**سیمه کې پر تصمیم نیونکو بنسټونو باندې اغېز/نفوذ**




**په تیرو دریو میاشتو کې، تاسو څو ځله له سیمه ایزو چارواکو سره د یوې مهمې موضوع په اړه خبرې کړې**




[11] د مینیماکس قاعده د پرېکړې کولو ستراتیژي ده چې په هغو سناریو ګانو کې تطبیق شوې چې د خطر او نه باوریتوب درلودونکې وي. د دغې قاعدې هدف تر اعظمي شوني حده د خسارې یا زیان چې شایي رامنځ ته شي، کمول دي. د طالبانو تر واک لاندې د افغانستان په زمینه کې، په اعظمي زیان کې جسمي سلامتیا، خوندیتوب او د هرې انفرادي ښځې او دغه راز په پراخه کچه د هرې افغان میرمن کرامت شامل دي.
[12] د ۲۰۲۱ کال په ډسمبر کې، واکمنو چارواکو د کورنۍ قانون د موضوعاتو په اړه یو فرمان صادر کړ، چې اجباري ازدواج منع کوي، په بدو کې د ښځې ورکول منع کوي، ګونډو ته د میراث حق ورکوي، او هغو نارینه وو ته چې له یوې څخه زیاتې ښځې لري د هغوي تر منځ د عدالت غوښتنه کوي. زیاتره مرکه شویو ښځو د دې یادونه کړې چې دغه نه دي تطبیق شوی، په ځانګړې ډول دوي لا اوس هم په خپلو ټولنو کې د اجباري ازدواج دوام تر سترګو کوي، د طالبانو چارواکو ته د ازدواج په ګډون. ځینې مشوره شوې ښځې د ۲۰۲۱ کال د ډسمبر د فرمان په اړه نه وې خبرې.


## د خوندیتوب انګیرنې

په داسې حال کې چې مشوره شویو میرمنو له دې سره توافق وښود چې د طالبانو له خوا تر نظامي بریا وروسته په افغانستان کې امنیتي وضعیت ښه شوی، خو دوی د دولت او انساني امنیت او خوندیتوب ترمنځ توپیر ته اشاره کړې ده. په اندېښمنونکي ډول، د نارینه وو د ۲ سلنې په پرتله، ۶۴ سلنه مشوره شویو ښځو په ډاګه کړه چې له کور څخه د یوازې وتلو پر مهال «هیڅ» د خوندیتوب احساس نه کوي. برعکس، د ۷۵ سلنه نارینه وو په پرتله یوازې ۹ سلنه مرکه شویو ښځو په ډاګه کړه چې له کور څخه د یوازې وتلو پرمهال د «بشپړ» خوندیتوب احساس کوي. په داسې حال کې چې د ۲۰۲۱ کال له اګست راهیسې د طالبانو په ځمې چاودنو یا وسله وال بریدونو کې د ښځو د واقع کېدو خطر کم شوی، خو دا د واکمنو چارواکو له خوا د هدفي ځورونې، ګواښونو او تاوتریخوالي د نورو شکلونو او د ناوړه ټولنیزو نورمونو په تقویه کولو بدل شوی، کوم چې د ښځو لپاره د جنسیتي تاوتریخوالي خطرونه لوړوي.

د ښځو د هغو راپورونو په تاییدولو سره چې د واکمنو چارواکو او د ټولنې د غړو له خوا په عامه ځایونو کې په مستقیم ډول په نښه شوي، سړو په ډاګه کړه چې کله د کورنۍ له کوم ښځینه غړي سره په عام محضر کې وي د خوندیتوب احساس یې د پام وړ کمیږي.[13] د ځانمنتوب دا لوړ احساس د خوندیتوب اندیښنو جنسیتي ماهیت او هغه طریقه په ګوته کوي چې واکمن چارواکي په کورنۍ کې د ښځو او نجونو له خوا له محدودیتونو د ترسره شویو سرغړونو لپاره نارینه مسؤول ګڼي.[14] دغه کار نارینه د نه خوندیتوب احساس ته ګرځوي او هغوی د یوې کنټرولوونکې او محافظه کاره نظریې خپلولو ته اړباسي. په داسې حال کې چې د پام وړ شمېر ښځو له کور څخه د یوازې وتلو په پرتله له محرم[15] سره د وتلو پرمهال د زیات خوندیتوب احساس په ډاګه کړی، له بلې خوا نارینه وو دا احساس ښکاره کړ چې په عام محضر د کورنۍ له کوم ښځینه غړي سره د تګ پر مهال په غیر مستقیم ډول د ځینو جنسیتي ځورونو او د تاوتریخوالي له ګواښونو سره مخ کېږي.

**د خوندیتوب په اړه د نارینه احساس**

**د خوندیتوب په اړه د ښځو احساس**




کله چې د کورنۍ له ښځینه غړي سره له کوره وځئ، آیا ځان خوندي احساسوئ؟

آیا کله چې له کوره یوازې وځئ، ځان خوندي احساسوئ؟

آیا محرم سره له کوره وتلو کې ځان خوندي احساسوئ؟

آیا کله چې له کوره یوازې وځئ، ځان خوندي احساسوئ؟

## د خدمتونو ورلاندې کول

مشوره شویو ښځو په پراخه کچه په دې موافقې وې چې د واکمنو چارواکو تر حاکمیت لاندې د خدمتونو برابرول په مالیاتو کې پر زیاتوالي سربېره، د پام وړ کم شوي دي. ښځو ته د واکمنو چارواکو لخوا د خدمتونو د برابرولو د اندازې په اړه د مشوره شویو ښځو او نارینه وو د نظریو ترمنځ د پام وړ توپیر موجود و. زیات شمېر نارینه وو داسې انګېرله چې ښځو خدمتونو ته لاسرسی درلود، کوم څه چې د ښځو د وضعیت او د هغوی د ژوند د پیچلتیاوو او ننګونو ترمنځ د نارینه وو د نظریو او پوهاوي ترمنځ توپیر په ډاګه کوي.[16]

د ښځو په پرتله نارینه وو د زده کړو، د رواني روغتیا د مرستې او روغتیا په برخه کې د خدمتونو برابرولو ته د زیات لاسرسي خبر ورکړی، کوم څه چې د لاسرسي په برخه کې د جنسیت له پلوه پراخ واټن په ډاګه کوي.[17] په داسې حال کې چې له نظري پلوه د ښځو لپاره روغتیایي

[13] دغې پوښتنې ته په ځواب کې، آیا له کور څخه د یوازې وتلو پرمهال د خوندیتوب احساس کوئ؟، نارینه وو ځواب ورکړ «په بشپړ ډول» (۷۵ سلنه)، «یو څه» (۲۳ سلنه)، او «هیڅ نه» (۲ سلنه). دغې پوښتنې ته په پرتله، د کورنۍ له ښځینه غړي سره له کوره د وتلو پرمهال د خوندیتوب احساس کوئ؟ نارینه ځواب ورکړ «په بشپړ ډول» (۳۱ سلنه)، «یو څه» (۶۳ سلنه)، او «هیڅ نه» (۶ سلنه).

[14] د حجاب فرمان چې د واکمن نظام لخوا صادر شوی، د ښځو محرم د دوی لباس ته د پاملرنې مسؤل ګرځول شوی دی.

[15] د مرکه شویو ښځو شپږ نوي سلنې کله چې له محرم له خوا بدرګه کېږي د «بشپړ» یا «یو څه» د خوندیتوب احساس په ډاګه کړ.


[16] د دې په اړه چې آیا برحاله چارواکي ښځو ته خدمتونه برابروي د ښځو او نارینه ترمنځ د ځوابونو ویش په لاندې ډول دی: روغتیایي خدمتونه (په ترتیب سره ۷۰ او ۶۳ سلنه)؛ د شخړو رسمي حل (لکه محکمې) (په ترتیب سره ۵۰ او ۵ سلنه)؛ د شخړو غیر رسمي حل (لکه د ټولنې، شوراګانو له خوا حل)(په ترتیب سره ۴۵ او ۴ سلنه)؛ د رواني روغتیا مرسته (په ترتیب سره ۲۰ او ۱۱ سلنه)؛ بیړنۍ سرپناه/مؤقت میشت ځای (په ترتیب سره ۹ او ۲ سلنه)؛ د بې روزګارۍ ملاتړ (په ترتیب سره ۵ او ۲ سلنه)؛ او زده کړې (په ترتیب سره ۳ او ۲ سلنه).

[17] د واکمنو چارواکو له خوا د خدمتونو د برابرولو په اړه په راپور ورکولو کې، نارینه وو د زده کړو د لوړې کچې د برابرولو په اړه خبر ورکړی (۵۰ سلنه، د ښځو د ۲ سلنې په پرتله چې په دې تړاو یې خبر ورکړی)، د رواني روغتیا د ملاتړ خدمتونه (۲۳ سلنه، د ۱۱ سلنې په پرتله)، او روغتیایي خدمتونه (۷۷ سلنه، د ۶۱ سلنې په پرتله).

خدمتونـه لا اوس هـم د لاس رسي وړ دي،[18] د خدمتونـو کيفيـت، د درملـو لـه لوړيدونکـو بيـو او هغـو محدوديتونـو سره چـې نـا دولتـي اداري يـې هـدف ګرځـولې کـوم چـې د خدمـت برابرونکـو[19] شـمېر او لاسرسـی لـه محدوديـت سره مـخ کـوي، مـخ پـه خرابيـدو دی. پـر زده کـړو بنديزونـه او پـر تـګ راتـګ محدوديتونـه د ښـځو او انجونـو لپـاره روغتيايـي خدمتونـو تـه لاسرسـی لا پسـې کمـوي، څرنګـه چـې د روغتيـا د کارپوهانـو پـه برخـه کـې پانګونـه پـه دې برخـه کـې کـم شـمېر ورتيـا لرونکـې افغـان ميرمنـې وړانـدې کـوي.

مشـوره شـويو ښـځو پـه مثبـت ډول د ښـاروالۍ لـه خـوا د تـرسره شـويو رغنيـزو کارونـو يادونـه وکـړه ، چـې پـه شرايطـو کـې د ښـه والي پـه څېـر انګېـرل کيـدل، پـه ځانګـړي ډول، د افغانسـتان د اسـلامي جمهوريـت د واکمنـۍ د دورې پـه پرتلـه ښـارونه پـاک او بريښـنا پـه اسـانۍ د لاسرسي وړ ګڼـل کيـدل. د مشـوره شـويو ښـځو لـه وينـا سره سـم د بهـتره شـويو خدمتونـو عادلانـه او موثـره رسـونه دې تـه اړتيـا لـري چـې واکمـن چارواکـي د تصميـم نيونـې پـه بهيرونـو او د خدمتونـو د برابرولـو پـه طـرح کـې د ټولنـې ټـول شـموله ګـډون تـه لومړيتـوب ورکـړي، د ښـځو د ځايـي پلټفورمونـو د تاسيسـولو پـه ګـډون چـې پـه مسـتقيم ډول د ښـځو غـږ واوري، د ښـاروالۍ پلانونـو لـه خلکـو سره شريـک کـړي او د پـروژو تطبيـق وڅـاري. د سـلا مشـورو پرمهـال، هغـو نارينـه وو چـې لـه ځايـي چارواکـو سره يـې تعامـل پـه ډاګـه کـړی و، د ورتيـا لرونکـو کارمندانـو د ګمارنـې اړتيـا پـه ډاګـه کـړه، او د دې يادونـه يـې کولـه چـې اوس مهـال دا هغـه څـه دي چـې پـه نـدرت سره پيښـيږي.

سربېـره پـر دې، ښـځو پـه کلکـه لـه واکمنـو چارواکـو څخـه د ښـځو پـر تـګ راتـګ، زده کـړو او کار د وضـع شـويو محدوديتونـو د لـرې کولـو غوښـتنه وکـړه – کـوم چـې ټولنيـزو خدمتونـو تـه د ښـځو اړتيـا زياتـوي او هغـو تـه د ښـځو لاسرسـی کمـوي. پـه دې برخـه کـې، ښـځو او نارينـه وو دواړو پـر انجوګانـو يـا نـا دولتـي مؤسسـو د وضـع شـويو محدوديتونـو د لـرې کولـو غوښـتنه وکـړه کـوم چـې د اړينـو او ژونـد-ژغورنـې خدمتونـو پـه وړانـدې کولـو کـې د هغـوي ورتيـا محـدودي. د ښـځو لپـاره د مـدني ټولنـې لـه مـلي سـازمانونو، دغـه راز لـه نړيوالـو ادارو او د ملګـرو ملتونـو لـه فعالينـو سره د تعامـل پـه برخـه کـې خنډونـه د موندنـو پـه وسـيله پـه ډاګـه شـوي، او دا ښـيي چـې نارينـه د ښـځو پـه پرتلـه درې چنـده د دې احتـمال درلـود چـې لـه دغـو ادارو سره تعامـل وکـړي.[20]




[18] د دې پـه يادونـې سره چـې روغتيايـي مرکزونـه ښـايي د ښـځو پرمـخ پرانيسـتي وي، خـو د خونديتـوب اندېښـنې، د تـګ راتـګ محدوديتونـه، د واکمنـو چارواکـو د ځورنـې ويـره او محدودونکـي، نـر واکـه کلتـوري نورمونـه ټـول پـه ګـډه د ښـځو لـه خـوا د موجـوده خدمتونـو کارونـه راکمـوي.

[19] UN Women، IOM، UNAMA. ٢٠٢٤. د افغان ميرمنو سره په ټول هيواد کې د مشورې لنډيز راپور.

[20] پـه دې برخـه کـې وېـش پـه لانـدې ډول دی: مشـوره شـوې ښـځې چـې دا يـې پـه ډاګـه کـړې چـې يـو ځـل يـې هـم د مـدني ټولنې/نادولتـي ادارو لـه فعالينـو (۷۳ سـلنه) يـا نړيوالـې نـا دولتـی ادارې او ملګـرو ملتونـو (۷۶ سـلنه) سره تعامـل نـه دی کـړی – پـه ترتيـب سره د نارينـه وو د ۳۸ او ۴۸ سـلنې پـه پرتلـه. برعکـس، ۴۴ سـلنه نارينـه وو لـه مـلي مـدني ټولنکې/نادولتـي ادارې لـه فعالينـو سره دوه ځلـه يـا ډېـر تعامـل پـه ډاګـه کـړي، چـې ۲۸ سـلنه يـې لـه نړيوالـو نـا دولتـي ادارو او ملګـرو ملتونـو سره د تعامـل يادونـه کـړې، پـه ترتيـب سره د ښـځو د ۱۱ او ۸ سـلنې پـه پرتلـه.

”د دغو شرایطو دروندوالی له نا هیلۍ او ویرې سره د ورځنۍ مبارزې لامل کیږي، یو دوامداره سر خوږی چې نه غواړي له منځه لاړ شي.“

د مرکـه شـوو مېرمنـو او سـړیو د رواني روغتیـا اړونـد نښـې نښـانې یـو ویجاړونکـی انځـور جـوړوي. زیـات شـمېر مېرمنـو خپلـه راپـور ورکـړی چـې د دوی رواني روغتیـا (اضطـراب، پواځیتـوب، ژور خفـګان) پـه «خـورا بـد» (۴۰ سـلنه) یـا «بـد» (۲۸ سـلنه) حالـت کـې ده. پواځـې ۱۰ سـلنه مرکـه شـوو مېرمنـو د ۲۹ سـلنه سـړیو پـه پرتلـه ویـلي، چـې د دوی رواني روغتیـا «ښـه» یـا «ډېـره ښـه» ده. پـه تېـرو سـلا مشـورو کـې د لیـدل شـوي وضعیـت وروسـته دا ځـل هـم مېرمنـو ټینـګار کـړی چـې د دوی رواني روغتیـا د تېـر ځـل سـلا مشـورو مـودې پـه پرتلـه خرابـه شـوې ده.

پـه رواني روغتیـا کـې د دغـه ډول دوامـداره کمـوالي سربېـره ځینـې نښـې نښـانې شـته چـې پـه دې برخـه کـې د مېرمنـو د وضعیـت خرابـوالي کچـه ټیټـه ده. پـه دې برخـه کـې د پرلپسـې تـرسره شـوو سـلا مشـورو پایلـې د یـادو مشـورو د وروسـتي ځـل پـه ارقامـو کـې ثابـت کمښـت ښـیي، چـې پـه کـې ۶۵ سـلنه مېرمنـو یادونـه کـړې چـې د دوی رواني روغتیـا «د پـام وړ» یـا «لـږ څـه» خرابـه شـوې، پـه داسـې حـال کـې چـې د ۲۰۲۳ کال پـه مـارچ کـې د دا ډول مېرمنـو کچـه ۹۱ سـلنه ښـودل شـوې ده. د یادونـې وړ ده چـې رواني روغتیـا د افغـان مېرمنـو او سـړیو لپـاره یـوه مهمـه او حیـاتي موضـوع ده او دا بهیـر پـه ډاګـه کـوي چـې د دوی خرابـه رواني روغتیـا د عـادي کېـدو پـه حـال کـې ده یـا دا چـې د دغـو مېرمنـو رواني روغتیـا تـر ټولـو ټیټـې کچـې تـه رسـېدلې ده.

همدارنګـه هغـو مېرمنـو چـې دا ځـل ورسره سـلا مشـوره شـوې، ویـلي چـې د ۲۰۲۴ کال د مـارچ پـه میاشـت کـې پـه رسـنیو کـې د واکمـن نظـام تـر حاکمیـت لانـدې د طالبانـو لخـوا اعـلان شـوي د افغانسـتان امیرالمومنیـن، هبـت اللـه اخنـدزاده تـه منسـوبو خـبرو خپرېـدو چـې پـه کـې نومـوړي «د انسـانیت لپـاره مبـارزې» او د ښـځو حقونـو د غـربي مفکـورو څخـه د مېرمنـو د خونـدي سـاتلو بهیـر د یـوې برخـې پـه توګـه یـې د دُرو وهلـو او سنګسـارولو حکمونـو د پـلي کولـو ژمنـه کـړې وه، د دوی پـر رواني روغتیـا منفـي اغېـزه کـړې ده.[21]پـه ټـول افغانسـتان کـې هغـو مېرمنـو او سـړو چـې سـلا مشـورې ورسره شـوې، یادونـه کـړې چـې دغـې وینـا څـه ډول د مېرمنـو خپـګان او نـا امیـدي زیاتـه کـړې او د دوی پـر ځـان بـاور او ډاډ یـې نـور هـم کـم کـړی دی. لـه دې وینـا وروسـته د واکمنـو چاپیریال لـور شـوی او لـه مېرمنـو سره د دوی پـه چلنـد کـې د لویـوالي او معافیـت احسـاس لا زیـات شـوی دی.

د هغـو سـړیو چـې مرکـه ورسره شـوې، د رواني روغتیـا نښـې نښـانې یـې د مېرمنـو د نښـو نښـانو پـه پرتلـه پـه زیـات توپیـر سره لیـدل شـوي دي، پـه داسـې حـال کـې چـې پـه یـوه انـدازه سـلنه سـړو د «خـورا بـدې» او «ښـې» رواني روغتیـا[22] درلودلـو خـبره کـړې او هیـڅ سـړیو دا نـه دي ویـلي چـې د دوی رواني روغتیـا «ډېـره ښـه» ده. د مرکـه شـوو مېرمنـو د سـمپل یـا نمونـې پـه پرتلـه د زیـات توپیـر درلودلـو سربېـره د سـړو پـه رواني روغتیـا کـې د وخـت پـه تېریـدو سره ورتـه خرابوالـی لیـدل شـوی دی، چـې لـه ډلـې یـې ۲۷ سـلنه سـړو ویـلي چـې د تېـرو دریـو میاشـتو پـر مهـال د دوی د رواني روغتیـا وضعیـت «د پـام وړ خـراب» شـوی دی او ۱۳ سـلنه سـړو ویـلي چـې د دوی وضعیـت «لـږ څـه خـراب» شـوی دی.

محدودوونکـي فرمانونـه چـې د افـرادو ازادۍ او حقونـه تـر پښـو لانـدې کـوي او ترڅنـګ یـې پـه خپـل سرې او ظالمانـه توګـه د یـادو فرمانونـو تطبیـق او اقتصـادي سـتونزې هغـه څـه دي، چـې پـه طبیعـي توګـه د افغـان نارینـه وګـړو رواني روغتیـا تـه زیـان رسـوي. د کورنـۍ نارینـه غـړي د ښـځو حقونـو د سیسـتماتیک لـه ړنګولـو پـه خـلاف د ښـځو ملاتـړ تـه دوام ورکـوي پـه داسـې حـال کـې چـې دوی خپلـه لـه ننګونـو سره مـخ دي لکـه، اقتصـادي سـتونزې، رواني روغتیـا او امنیتـي اندېښـنې.

نارینـه خپلـوان او اقـارب زیاتـره وخـت پـه اړیکـو کـې د زور او فشـار او د بندوونکـو نورمونـو د تطبیـق سربېـره د خپلـو مېرمنـو عمـلي او عاطفـي ملاتـړ کـوي، لـه کـوره بهـر وتلـو کـې لـه دوی سره ملګرتیـا کـوي، پـه هـر ځـای کـې چـې دوی یـې کـولای شي زده کـړو او دنـدو تـه د دوی پـه لاسرسي کـې مرسـته کـوي او د نهیـلي کېـدو پـه صـورت کـې دوی تـه ډاډ ورکـوي. دا ټـول هغـه څـه دي چـې د کورنیـو اړیکـو پیاوړتیـا پـه ګوتـه کـوي، سره لـه دې چـې دا ډول مرسـته بایـد پواځـې د کـور دننـه وشي (ځکـه چـې سـړي د واکمـن نظـام پالیسـیو او ټولنیـزو نورمونـو سره پـه ټکـر کـې واقـع کېـدو کـې لـه کبلـه پـر ځـان خطرونـه منـي). سربېـره پـر دې، هغـو مېرمنـو چـې مرکـې ورسره شـوې، یادونـه کـړې چـې پـه کـور کـې او د کورنـۍ د نـورو غـړو ترمنـځ د دوی نفـوذ او اغېـز مـخ پـه کمېـدو دی.[23]

[21]حیات، بایس. ۲۰۲۴. «د طالبانو مشر وراندیز کوي چې د شریعت تطبیق په د سنګسارولو او د مېرمنو وهلو لامل شي.» امو تلویزیون. افغانستان. ۲۰۲۴ د مارچ ۲۴.

[22]په دې برخه کې د ځواب ورکوونکو سړو د ځوابونو ډلبندي: «ډېره خرابه» – ۲۳ سلنه؛ «خرابه» – ۲۷ سلنه؛ «عادي» – ۲۱ سلنه؛ «ښه» – ۲۹ سلنه؛ «ډېره ښه» – ۰ سلنه.

[23]د مېرمنو ترمنځ په کور کې د دوی نفوذ په چټکۍ سره د راکمېدو په حال کې دی، چې د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ په میاشت کې له ۹۰ سلنه څخه د ۲۰۲۴ کال په جنورۍ کې ۳۲ سلنې او د همدې کال د اپریل په میاشت کې ۲۸ سلنې ته راښکته شوی دی. په لویه کورنۍ کې د ځواب ورکوونکو مېرمنو نفوذ او اغېز هم په ورته ډول راکم شوی دی، چې د ۲۰۲۳ کال په جنورۍ کې د ۳۴ سلنې په پرتله د ۲۰۲۴ کال په اپریل کې ۷ سلنې ته راټیټ شوی دی.


همدارنګه دا سلا مشورې د مېرمنو او سړو د فامیلي اړیکو لیدلورې یو متفاوت انځور وړاندې کوي. د هغو مېرمنو له ډلې چې مرکه ورسره شوي، دوه څلوېښت سلنه مېرمنو څرګنده کړې چې د کورنۍ د نارینه غړو سره د دوی اړیکې خرابې شوي دي، حال دا چې ۲۲ سلنه نارینه وو هم ویلي چې د کورنۍ له ښځینه غړو سره یې اړیکې خرابې شوي دي. یادو مېرمنو په وضاحت سره ویلي چې اقتصادي فشار څرنګه په یوه کورنۍ کې د ستونزو او کړکېچونو د زیاتوالي لامل کېږي چې دوی په دې برخه کې د واکمن نظام د محدودوونکو پالیسیو سره سم د مېرمنو د ازادۍ پر وړاندې د کورنۍ د نارینه غړو په چلند کې د منظم بدلون یادونه کړې ده. له حیرانتیا پرته دا توپیر په ګوته کوي چې مېرمنې له دې امله خورا ډېرې زیانمنې شوي او په دې ښه پوهېږي چې له جنسیتي پلوه په دوی لګېدلو محدودیتونو د کورنۍ له نارینه غړو سره د دوی په اړیکو باندې منفي اغېزه کړې ده.

## د عاید لاسته راوړل

دا ځل سلا مشورې په مالي برخه کې د مرکه شوو مېرمنو او سړو ترمنځ یو د پام وړ جنسیتي توپیر په ګوته کوي، چې له ډلې یې ۷۰ سلنه افغان مېرمنو د تېرو دریو میاشتو پر مهال خپل عایداتي وضعیت خرابېدونکی ښودلی دی، په داسې حال کې چې ۴۹ سلنه سړو هم ورته خبره کړې ده. د دې ترڅنګ، مېرمنو څرګنده کړې چې د مالي ملاتړ میکانیزمونو ته په لاسرسي کې د زیاتو ستونزو سره مخ کېږي چې لامل یې د پورونو په ترلاسه کولو (۱۳ سلنه) او له بهر څخه د حوالو په ترلاسه کولو (۲۲ سلنه) کې د مېرمنو نسبتاً کمه ونډه ښودل شوې ده، حال دا چې د سړو ونډه په دې برخو کې (په ترتیب سره ۲۷ سلنه او ۴۹ سلنه) ده.

په افغانستان کې د اقتصادي وضعیت د ښه والي لپاره روانو هڅو سره یوځای د مالي ملاتړ خدمتونو ته په لاسرسي کې د نابرابرۍ ستونزو د حل لپاره هم باید اقدامات ترسره شي. ځواب ورکوونکو مېرمنو ویلي چې د پورونو په ترلاسه کولو، په ځانګړې توګه د ځمکو په تضمین کې، له جنسیتي ستونزو سره مخ کېږي. د بېلګې په توګه، ځینې اټکلونه په ډاګه کوي چې د ځمکې د ملکیت په سندونو کې د کورنۍ غړو د یوازې ۵ سلنه ښځینه غړو نومونه لیدل کېږي.[24] د دې برعکس، د پور ورکوونکو لخوا مېرمنو ته د پور نه ورکولو یو تر ټولو ستر لامل د مېرمنو مالي بې ثباتي ښودل شوې ده. په ورته وخت کې د موجوده محدودیتونو په شتون کې د مېرمنو کاري فرصتونه د پام وړ راکم شوي دي، چې ورسره د مېرمنو لخوا د پورونو په ورکړه کې د ناتوانۍ احتمال او امکان لا زیاتېږي.[25] همدارنګه یادو مېرمنو د دوی پر ګرځېدو د لګول شوو محدودیتونو د اغېزې یادونه کړې او ویلي یې دي چې نشي کولای مالي او د پیسو تبادلې مرکزونو ته، په ځانګړې توګه په کلیوالي سیمو کې، ولاړې شي. د دغو موندنو له مخې مالي خدمتونو ته د افغان مېرمنو لاسرسي او اقتصادي ځواکمنتیا پر وړاندې د موجوده جنسیتي ستونزو د حل لپاره د هدفي اقداماتو ترسره کول اړین بلل کېږي.

**د خپل عاید جوړولو حالت د تېرو دریو میاشتو په پرتله څنګه ارزوئ؟**




[24] کور جوړونه، د افغانستان د ځمکې او ملکیت کاري ډله. ۲۰۲۰. په افغانستان کې د مېرمنو د ځمکې حقونو لنډ لارښود.
[25] مرکه شوو مېرمنو او سړیو دواړو د دې خبرې یادونه کړې ده.

”دلته یو څرګند توپیر لیدل کېږي: یو سړی چې نالوستی وي او هیڅ تجربه ونلري د هغې مېرمنې څخه غوره ګڼل کېږي چې په خپل مسلک کې بریالۍ او لوړې زده کړې ولري. دا واقعیت په افغانستان کې د مېرمنو پر وړاندې شته ننګونو یو دردناک انعکاس دی.“

د سلا مشورو په پایله کې په ډاګه شوه چې د افغان مېرمنو او سړو تر منځ په دې هکله یوه پیاوړې اجماع موجوده ده چې نړیواله ټولنه باید هغه میکانیزمونه پلي کړي، څو د تصمیم نیونې په نړیوالو غونډو او ناستو کې د افغان مېرمنو ګډون تضمین او معیارونه ورته وټاکل شي. هغو افغانانو چې سلا مشوره ورسره شوې، نظر ورکړی چې واکمن چارواکي او نړیواله ټولنه نشي کولای د افغان مېرمنو په استازولۍ نظرونه وړاندې کړي، چې د افغانستان د راتلونکي په تړاو د تصمیم نیونې په نړیوالو بهیرونو کې د دوی د مستقیم او غیر مستقیم ګډون پر اهمیت باندې ټینګار کوي.

مېرمنو او سړو دواړو د سلا مشور په پایله کې د شمولیت د دریو میکانیزمونو په تقویه کېدو باندې په پراخه کچه هوکړه کړې ده.[26] لومړی دا چې، ۵۹ سلنه مېرمنو او ۳۶ سلنه سړو چې سلا مشوره ورسره شوي، د افغانستان د راتلونکي په هکله هر ډول بحثونو کې د افغان ګډونوالو ترمنځ د ۵۰ سلنه ښځینه استازو د ونډې لیدلو ته لیوالتیا ښودلې ده. دویم دا چې، شاوخوا نیمایي کسانو چې مشورې ورسره شوي، له سیاسي او عامه تصمیم نیونې څخه د افغان مېرمنو شدید ویستلو پر وړاندې مبارزې لارو چارو په توګه د مېرمنو د یو جلا استازیتوب شتون غوره ګڼلی دی. دریم دا چې، د مشوره شوو مېرمنو او سړو نیمایي برخې په ډاګه کړې چې نړیوالې ټولنې ته د مېرمنو مشورتي بورډ شتون به وکولای شي په نړیواله تصمیم نیونه کې د افغان مېرمنو نظرونو او تخصص ته د ونډې ورکولو لپاره لاره هواره کړي.[27]

افغان مېرمنې تر ډېره هغو لارو چارو ته لومړیتوب ورکوي چې دوی وکولای شي له واکمنو چارواکو سره خبرو ته کېني، او ډېر کم دا غواړي چې نړیواله ټولنه دې د دوی په استازولۍ د دوی لپاره عدالت غوښتنه وکړي. دا سلا مشورې د افغان مېرمنو او سړو ترمنځ یو ګډ باور څرګندوي او هغه دا چې، که چېرې د مېرمنو لپاره په اوسنیو حالاتو او شرایطو کې ښه والی راشي، نړیواله ټولنه به «له واکمنو چارواکو سره د مېرمنو د مستقیمو خبرو اترو لپاره زمینه برابره کړي» (په ترتیب سره ۴۵ سلنه او ۴۱ سلنه). د مېرمنو د وضعیت په خرابېدو سره د مېرمنو لیوالتیا د دوی د غږ اورېدو لپاره په زیاتېدو ده: د واکمنو چارواکو سره د مستقیمو خبرو غوښتنې کولو لپاره د مېرمنو شمېر د ۲۰۲۲ کال د اګسټ په میاشتې کې د ۲۶ سلنې او د ۲۰۲۳ کال د نومبر په میاشت کې ۳۹ سلنې په پرتله د ۲۰۲۴ کال په جنوري کې ۴۵ سلنې ته زیات شوی دی.[28] په ترسره شوو مشورو کې د ۱۷ سلنه سړو په پرتله، یواځې نهه سلنه مېرمنو واکمنو چارواکو سره مستقیمو خبرو او د نړیوالې ټولنې لخوا عدالت غوښتنې ته لومړیتوب ورکړی دی. د دې مشورو په پایله کې افغان مېرمنې او سړي په ګډه په دې باور دي چې «د واکمن نظام په رسمیت پېژندلو» سره به د افغان مېرمنو په وضعت کې ښه والی رانشي.[29]

د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، کډوالۍ نړیوال سازمان او یوناما لخوا په ګډه په لاره اچول شوو سلا مشورو کې د هغو مېرمنو یوې سترې برخې چې مشوره ورسره شوې، ټینګار کړی چې نړیواله ټولنه باید په نړیوالو ناستو او غونډو کې د مېرمنو د شتون ډاډ ورکړي او وکولای شي د ټولو افغان مېرمنو اړتیاوې او تجربې نړۍ ته څرګندې کړي. دغو سلا مشورو په دې تړاو د تصمیم نیونې په نړیوالو غونډو کې په قصدي توګه د افغان ګډونوالو پر ټاکنې نیوکه کړې، او یادونه یې کړې چې، د دې پر ځای دوی کولای شي د غوره او مناسبو استازو د ټاکلو لپاره د ټاکنې کړنلارو د جوړولو لپاره د مدني ټولنې له شبکو کار واخلي. په ځانګړې توګه، شاوخوا یوه پر څلورمه برخه د دواړو ښځو او نارینه وو چې سلا مشورې ورسره شوي (۲۱ سلنه ښځې او ۲۸ سلنه نارینه) ویلي دي، چې له مدني ټولنې سره نړیواله همکاري او ښکیلتیا د افغانستان د ښځو د وضعیت د ښه والي لپاره مهمه ده.

[26] له مېرمنو سره په مخامخ ۹۲ سلنه مرکو کې، ځواب ورکوونکي لږ تر لږه یوه طرحه شوې طریقه غوره کړې ده. له سړو او مېرمنو سره متمرکز ګروپي بحثونو کې هم د دغو طریقو له اهمیت څخه په دوامدره توګه یادونه شوې ده.

[27] په دې برخه کې د مېرمنو او سړو لخوا ورکړل شوي ځوابونه په دې توګه ډلبندي شوي دي: ۵۰ سلنه ونډه د مېرمنو استازو لپاره (په ترتیب سره ۵۹ سلنه او ۳۶ سلنه)؛ د افغانستان په هکله تصمیم نیونې په نړیوالو غونډو کې د افغان مېرمنو د پلاوي شتون (په ترتیب سره ۴۹ سلنه او ۵۰ سلنه)؛ او نړیوالې ټولنې ته د مېرمنو مشورتي بورډ (په ترتیب سره ۵۰ سلنه او ۵۰ سلنه).

[28] د ۲۰۲۲ کال د اګسټ میاشت ارقام د افغان مېرمنو د کلیدي لومړیتوبونو په هکله د یوې جلا سروې څخه ترلاسه شوي دي چې یاده سروې د DROPS لخوا ترسره شوې او په لاندې لینک کې د لاسرسي وړ ده: https://www.bishnaw.com/survey/۱۵-sep-۲۰۲۲

[29] په افغانستان کې د مېرمنو د وضعیت ښه والي یواځینې لارې په توګه «د طالبانو په رسمیت پېژندل» د مشوره شوو افغان میرمنو او سړو لخوا په پراخه کچه رد شوې ده، یواځې په ترتیب سره څلور سلنه او درې سلنه یې د دې کار ملاتړې دي.

# سپارښتنې

**افغان مېرمنې په ځانګړې توګه ټینګار کوي چې واکمن چارواکي باید لاندې موارد په پام کې ونیسي:**

- په ځایي کچه د تصمیم نیونې په بهیرونو او د خدمتونو وړاندې کولو په طرحه کې د تولنې ټولګډونه همکارۍ او ښکیلتیا ته لومړیتوب ورکړي، په ځانګړې توګه د ځایي مېرمنو د پلټفورمونو جوړولو او عامو خلکو سره د ښاري پلان جوړونې په هکله د معلوماتو شریکولو له لارې دا چاره ترسره کړي.
- په افغانستان کې د مېرمنو او انجونو په بنسټیزو حقونو او ازادیو باندې لګول شوي بندیزونه لرې کړي، په ځانګړې توګه هغه بندیزونه چې د مېرمنو او انجونو مدني او سیاسي حقونه محدودوي.
- په ځایي کچه د تصمیم نیونې ادارو او خدمتونو ته په لاسرسي کې مساوات او د تبعیض د نشتون ډاډ ورکړي، په ځانګړې توګه د نورو مسایلو ترڅنګ، اړینو خدمتونو او د شخړو د حل رسمي او غیر رسمي جوړښتونو ته د دوی د لاسرسي ډاډ ورکړي.
- پر انجوګانو (غیر دولتي موسسو) باندې لګیدلي بندیزونه لرې کړي ترڅو دوی وکولای شي په ټول هېواد کې افغانانو ته د ژوندانه اړین او حیاتي خدمتونه ورسوي.
- د ښځو دایمي شوراګانې جوړې کړي ترڅو دوی د انتقام له ویرې یا عکس العمل پرته د مېرمنو اړتیاوې او غوښتنې له تصمیم نیوونکو محلي واکمنو چارواکو سره بحث او شریکې کړي.

**افغان مېرمنې په ځانګړې توګه ټینګار کوي چې نړیواله ټولنه باید لاندې موارد په پام کې ونیسي:**

## عدالت غوښتنه او د افغانستان د راتلونکي لپاره تعامل او همکاري

- داسې میکانیزمونه رامنځته او پلي کړي، چې د مستقیم او غیر مستقیم ګډون لارو چارو له لارې د تصمیم نیونې په نړیوالو غونډو کې د افغان مېرمنو ګډون تضمینوي.
- ډاډ ورکړي چې افغان مېرمنې د افغانستان د راتلونکي په تړاو د هر ډول بحثونو پر مهال ګډون لري، په ځانګړې توګه له واکمنو چارواکو سره مستقیمو خبرو اترو کې د مېرمنو د ښکیلتیا زمینې برابرولو له لارې دا ډاډ رامنځته کړي.
- د افغانستان د راتلونکي په هکله په هر ډول بحثونو کې د اړوندو مهمو او حیاتي مسایلو په توګه د مېرمنو حقونو او جنسیتي برابرۍ ته لومړیتوب ورکړي.

## مالي تمویل برابرول او د پروګرامونو جوړول

- ډاډ ورکړي چې په افغانستان کې د اقتصادي وضعت د ښه والي لپاره په روانو هڅو کې، په هر ډول وروستیو ګټو لکه، د مالي ملاتړ خدمتونو ته په لاسرسي کې، د جنسیتي نابرابرۍ د له منځه وړلو لپاره هدفي پروګرامونه هم شامل دي.